قیس هاشمي (په نارینه کتګورۍ کې د ۲۰۲۴ کال لومړۍ جایزې ګټونکی)

۱

څومره یې ښه وهله څومره یې خوړه وهله

دا جینۍ څوک وه دا بېګاه چې یې چمبه وهله؟

نور به د صنف نه په تفریح ووتل موږ به ناست وو

ما به خپل شعر لیکه هغې به دنداسه وهله

یتیم چې ولیدی په فکر کې یې غوښه راغله

د خان خوله غوړه وه په غاښ کې یې خاشه وهله

چې په غوسه به شو نیکه په چا یې وار نه کاوه

له ځمکې ځمکې به یې خپله لنګوټه وهله

دوې مکتبیانې په روژه کې وې ګرمۍ وهلې

یوې خپل مخ مینځه یوې ورته بمبه وهله

زموږ کره ختې کېدې چا به ډکول ستلونه

چا به رسۍ کشوله چا به ګیلماله وهله

وې زه د کور نه له مستۍ راتښتېدلی نه یم

وې پلار مې مور په کېبلانو هره شپه وهله

تا دا د نن زمانې یار ته و خدای نه پېژانده؟

کاږه دېوال ته قیسه تا څنګه تکیه وهله؟

ستوري تر لمر، تر سپوږمۍ لمر لوی دی

مه خفه کېږه د خدای در لوی دی

په وزن درووند په عمر خان مشر دی

مګر خو زړه یې د نوکر لوی دی

په مانا روح ستر دی، که جسم ستر دی؟

په مقام زړه لوی دی، که سر لوی دی؟

دا سړی هسې پر سر سر نه مني

غر پر سر لار لري که غر لوی

څوک یې تر څنګ په لمانځه نه درېږي

کنې د قیس غریب څادر لوی دی

**(زما ماشومتوب)**

زما د ماشومتوب يو څو جالبې خاطرې

د ريګو کوټنۍ د کاغذونو تيارې

په تک تور اسمان کې سپينې سپينې ستارې

د اوړي په موسم کې خوب پر بام باندې د شپې

د شپې د خوب په ځای کې د ادې خوږې کيسې

سهار په ملا ګل باندې سبق د سپارې

واړه زاړه راټول زموږ په کور کې په ناشتې

د پلار او د کاکا مې په سياست کې شوې دعوې

دعوې يې شوې بدلې په اخېر کې په جګړې

په کور کې بده ورځ وه خوله مې ولې لټوې

زه داسې وم ډار شوی اه مې نه واته له خولې

لوېدلې وې په جنګ کې د تور سرو لوپټې

د وينو لاره وتې وه د کور له دروازې

کاکا مې پلار وهلی و په نس کې په چړې

بابا مې په کاکا باندې وار وکړ د بلچې

له خلکو کلی ډک و بنده نه ورته نږدې

يوه کور ته يې راوړي يوه ورځ دوې جنازې

رښتيا په هغه ورځ ددوی دا شخړه شوه په دې

يوه کاوه صفت د امريکا بل د روسې